# زه کله کولی شم جلاوالي پرېږدم؟

لارښو



| هغه کسان چې د کوویډ-19 معاينې پايله يې مثبته وي | وړاندېز شوی عمل |
|---|---|
| که چيرې ستاسو د کوويډ معاينې پايله مثبته وي، تاسو بايد د واکسين کولو وضعيت يا د علايمو نشتوالي په پام کې نيولو پرته له نورو جلا شئ.<br><br>د دې وړاندېز شوي عمل نه مراعتول ممکن نورو ته د کوويډ-19 خپرېدو احتمال ډېر کړي. | • <u>لږترلږه د 5 ورځو لپاره په کور کې پاتې شئ.</u><br>• **جلا والی 5 ورځې وروسته پای ته رسيدلی شي که چيرې:**<br>  • **علايم شتون ونلري، يا معتدل او ښه کيږي؛ او**<br>  • **تاسو د 24 ساعتونو پورې له تبې څخه خلاص ياست (د تبې کمولو درملو له استماعل څخه پرته).**<br>• که چيرې تبه شتون ولري، نو تر هغه چې تبه لږ تر لږه د 24 ساعتونو لپاره ختمه شوې نه وي جلا والي ته دوام ورکړئ (د تبې کمولو درملو له استعمال پرته، لکه ټيلينول/ايبوپروفين).<br>• که چيرې نور علايم له منځه نه ځي، نو تر هغه پورې د ځان ګوښه والي ته ادامه ورکړئ ترڅو علايم ښه کېږي يا تر 10 ورځې وروسته پورې دوام ورکړئ.<br>• په ټوليزه توګه د 10 ورځو پورې د نورو خلکو شاوخوا کې ښه مناسب ماسک وچوئ، په ځانګړې توګه د کور دننه ترتيباتو کې (لاندې د ماسک اچولو لارښود وګورئ).<br>• د شديدې کوويډ-19 ناروغۍ د مخنيوي لپاره درمل شتون لري. د مهربانۍ له مخې دې پټې ته مراجعه وکړئ: [https://covid-19.acgov.org/treatment.page](https://covid-19.acgov.org/treatment.page) |
| هغه خلک چې د شديد کوويډ-19 خپرېدو د لوړ خطر سره مخ ځايونو کې ژوند، کار يا له هغو څخه ليدنه کوي، يا زيان منونکي کسان ورسره وي (بيلګه: روغتيايي پاملرنې او بيړنې خدمتونه، زندانونه، د بې کوره خلکو سرپناه ځايونه) بايد د مرکز اضافي اړتياوې يا لارښوونې په پام کې ونيسي. | |

## <u>يادښت:</u>

پورته لارښوونې د CDC او CDPH (د کليفورنيا د عامې روغتيا رياست (California Department of Public Health)) لخوا وروستي وړانديزونه منعکسوي. دوی تاسو ته د اختيار په توګه شتون لري، که څه هم د خپريدو خطر ممکن له 5 ورځو څخه وروسته شتون ولري. د 10 ورځو لپاره له نورو خلکو څخه جلا کيدل ترټولو خوندي انتخاب دی.

## <u>د ماسک اغوستلو لارښوونه:</u>

ستاسو د ناروغۍ له پيل کيدو څخه وروسته د 10 ورځو پورې د نورو خلکو خوندي ساتلو لپاره د ښه مناسب ماسک اغوستل اړين دي. د جلاوالي پای ته رسيدو وروسته، خلک کولی شي د 24 ساعتونو په وقفو د دوه ترتيبي منفي ازموينو (د انټيجن ازموينه غوره ده) راتلو سره د 10 ورځو څخه ډېر ژر خپل ماسک لرې کړي. يادښت: دا به يوازې په عامو خلکو اغيزه وکړي خو په CalOSHA مقرراتو کې د اوسنۍ ژبې له امله پوښل شويو کارمندانو باندې نشي پلي کيدی. داچې د ماسکونو څخه څنګه ډېر محافظت ترلاسه کړئ، په اړه يې نور معلومات پدې پته زده کړئ [https://www.bit.ly/3TayrUV](https://www.bit.ly/3TayrUV)

**ALAMEDA COUNTY HEALTH CARE SERVICES AGENCY**
**PUBLIC HEALTH DEPARTMENT**

کولين چاولا – د اداري رئيس کيمي واټکينز-ټارټ - رئيس نيکولاس ماس، MD - د روغتيا مامور

اړيکه

د عامې روغتيا څانګه:
(510) 267-8000 اصلي تليفوني کرښه

د کوويډ-19 معلومات:
(510) 268-2101

www.acphd.org

# کوویډ-19

# د نږدې کسانو لپاره لارښود





ایا تاسو یو نږدې کس یاست؟

تاسو هغه وخت یو نږدې کس یاست که چیرې تاسو په کور کې دننه هوا په 24 ساعتونو کې د 15 دقیقو یا ډېر وخت لپاره د هغه چاسره‌شریک کړئ څوک چې په کوویډ-19 ناروغۍ اخته وي.

| د نورو خلکو د ساتنې لپاره اقدامات | که چیرې تاسو<br>د کوویډ-19 سره مخ شوي یاست (نږدې تماس) |
|---|---|
| • له مخامخ کیدو 3 څخه تر 5 ورځې وروسته د کوویډ-19 معاینه وکړئ.<br>• د 10 ورځو پورې د نورو خلکو شاوخوا ښه مناسب ماسک واچوئ، په ځانګړي توګه په کور کې.<br>• د 10 ورځو پورې د علایمو لپاره ځان په ځیر سره وڅارئ.<br>  ◦ که چیرې په تاسو کې نښې نښانې ولیدل شي، نو ترهغه په کور کې او له نورو څخه لیرې پاتې شئ ترڅو تاسو د کوویډ-19 معاینه ترسره کړئ. که چیرې ستاسو لومړۍ معاینه منفي وي، نو له 24 څخه تر 48 ساعتونو پورې انتظار وکړئ او یوه بله معاینه ترسره کړئ ځکه چې په کوویډ-19 د اخته کسانو د معاینې پایله سمدلاسه مثبته پایله نه ورکوي.<br>  ◦ که چیرې ستاسو د کوویډ-19 معاینې پایله مثبت وي، نو د جلاوالي لارښوونې تعقیب کړئ: https://bit.ly/AC-C19<br>• هغه خلک چې د شدید کوویډ-19 خپریدو د لوړ خطر سره مخ ځایونو کې ژوند، کار یا له هغو څخه لیدنه کوي، یا زیان منونکي کسان ورسره وي (بیلګه: روغتیایي پاملرنې او بیړنۍ خدمتونه، زندانونه، د بې کوره خلکو سرپناه ځایونه) باید د مرکز اضافي ارتیاوې یا لارښوونې په پام کې ونیسي. | که چیرې تاسو د هغه چا سره مخ شوي یاست چې په کوویډ-19 اخته وي، نو تاسو قرنطین کیدو ته اړتیا **نه** لرئ. خو که چیرې په تاسو کې د ناروغۍ نښې نښانې رامنځته شي، نو سمدلاسه جلا والی اختیار او د کوویډ-19 معاینه ترسره کړئ!<br><br>**مخامخ کیدل** پدې معنا دي چې د 24 ساعتونو په دوران کې په مجموعي ډول د 15 دقیقو لپاره په ناروغۍ د اخته کس سره د کور په دننه هوا کې اوسیدل. (بیلګه: په 3 بیلا بیلو وختونو کې، د 5 دقیقو پورې مخامخ کیدنه د 15 دقیقو مخامخ کېدنې سره برابره ده.)<br><br>که چیرې تاسو په کوویډ-19 اخته یاست، نو د تونخې، ستونې درد، اسهال، ستړیا، یا د سر درد په ځیر علایمو احساسولو څخه 2 ورځې مخکې تاسو کولی شئ چې نورو خلکو ته ویروس ولیږدوئ (یا ستاسو د معاینې له مثبتې پایلې ترلاسه کولو څخه 2 ورځې مخکې، که چیرې تاسو هیڅکله ناروغي نه احساسوئ). |

یادښت پداسې حال کې چې تاسو قرنطین ته اړتیا نلرئ، نو په شدید کوویډ-19 ناروغۍ د اخته کېدو له لوړ خطر سره مخ خلکو سره د 10 ورځو پورې نږدې نه پاتې کېدل په پام کې ونیسئ لکه: بوډاګان، د مزمنو ناروغیو لرونکي خلک، دداسې ناروغیو لرونکي خلک چې د هغوی معافیتي سیستم کمزوری کوي، او هغه خلک چې واکسین شوي ندي. نور معلومات/سرچینې پدې پته وموړئ https://bit.ly/AC-C19

د واکسینونو یا د بوسټر ډوزونو ورتیا په اړه د معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ دې پټې ته مراجعه وکړئ: www.bit.ly/Vx-Eligible



د ماسک اغوستلو لارښود:

په ناروغۍ له اخته کسانو سره د مخامخ کیدو وروسته د 10 ورځو پورې ښه مناسب ماسک اغوستل د نورو خلکو د خوندي ساتلو لپاره اړین دي. داچې ماسکونه څنګه په اغېزمنه توګه استعمالولی شئ، په اړه یې د معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ دې لینک ته مراجعه وکړئ:
https://www.cdph.ca.gov/Programs/CID/DCDC/Pages/COVID-19/Get-the-Most-out-of-Masking.aspx


ALAMEDA COUNTY HEALTH CARE SERVICES AGENCY
PUBLIC HEALTH DEPARTMENT

اریکه

د عامې روغتیا څانګه:
(510) 8000-267 اصلي تلیفوني کرښه

د کوویډ-19 معلومات:
(510) 2101-268

www.acphd.org

**کولین چاولا** – د اداري رئیس
**کیمي واټکینز-ټارټ** - رئیس
**نیکولاس ماس، MD** - د روغتیا مامور

# د الميډا ولسوالۍ سرچينې



## مالي سرچينې

| اړيکه | معلومات: | اداره |
|---|---|---|
| 510-259 2200<br>**بريښناليک:** HoEmLodgP@acgov.org<br>https://www.alamedacountysocialser -vice s.org/our-services/Shelter-and Housing/Other-Support/HELP | د الميډا ناحيې (Alameda County) اوسيدونکو ته له بې کوره کېدو څخه د مخنيوي او دايمي کور ته د ليږد لپاره د يو وخت بېړنۍ مرسته چمتو کوي. | **HELP (مرسته او د بېړنۍ استوګنې پروګرام)** |
| 510-263-2420<br>https://www.alamedacountysocialser vice s.org/contact-us/online-self-services- virtual-kiosk | عمومي مرسته (GA)، له کډوالو سره د نغدو پيسو مرسته (RCA)، د کډوالو لپاره د نغدو پيسو مرستي پروګرام (CAPI) هغو کسانو ته مرستي او ملاتړ چمتو کوي چې ورړ وي. | **د الميډا ناحيې ټولنيز خدمتونه SSA Alameda County Social) (Services SSA** |
| 510-272-3700<br>www.cceb.org | د اوکلينډ اوسيدونکو لپاره د کرايې مرسته | **کاتوليک خيريه موسسه Catholic) (Charities East Bay** |
| 3700-272-510<br>https://www.alamedacountysocialser -vice s.org/our-services/Shelter-and -Housing/Other-Support/season-of sharing | د کورنيو لپاره د کرايې او زيرمو مرستې | **د شريکولو فصل** |
| https://ofwemergencyfund.org/help | د ساعت پراساس کارګرانو ته نغدي ډالۍ مهرباني وکړئ په ياد ولرئ: موږ په فعاله توګه د دې بيړني تمويل لپاره پيسې راټولوو او کارګرانو ته به لندمهاله نغدي ډالۍ ورکوو کله چې پيسې شتون ولري. | **د يوې کرايې معاش بيړنۍ تمويل** |
| 211 ته زنګ ووهئ<br>/http://211alamedacounty.org | په الميډا ناحيې کې د سرپناه، انتقالي کور، او نورو بيړنيو کورونو ته د لاسرسي په اړه معلومات | **د کور سرچينې** |
| 1-800-933-9677<br>د PG&E تخفيف (د پاملرنې پروګرام) | يو ځل د لګښتونو په ورکړه کې مرسته، د تاديې ترتيب او تمديد (د رسونې پروګرام) | **PG&E** |
| 1-866-403-2683<br>https://www.ebmud.com/customers/bi lli ng-questions/financial-assistance | د اوبو د بل په ادائنه کې مرسته | **د EBMUD له پيرودونکو سره د مرستې پروګرام** |
| 510-881-0300 توسعه. 216 او توسعه.226<br>/https://www.spectrumcs.org | د انرژۍ د بل په ادائنه کې مرسته (LIHEAP پروګرام) | **د سپيکټرم ټولنيز مرکز Spectrum) (Community Center** |
| 510-582-2182<br>بريښناليک: info@4c-alameda.org<br>/https://4calameda.org | د ماشوم پاملرنې سرچينې، د داپيرونو کڅوړې ، مالی مرستې | **د الميډا ولسوالۍ 4C** |

# د الميډا ولسوالی سرچينې



## د خوراکي توکو سرچينې

| اړيکه | معلومات | اداره |
|---|---|---|
| 510-635-3663<br>(دوشنبې څخه تر جمعې پورې د سهار له 9 څخه تر مابګر 4 بجو پورې)<br>د خوراکي توکو ځایونه: www.foodnow.net او www.comidaahora.net | د مرستې تليفوني کرښه به تاسو په هماغه ورځ چې تاسو زنګ ووهئ د خوراکي توکو يا ګرمو خوړو لپاره سرچينې سره ونښلوي. د Cal Fresh غوښتنلیک مرسته | د الميډا ناحيې د خوراکي توکو بانک (Alameda County Food Bank) |
| https://covid-19.acgov.org/covid19-assets/docs/food-housing-finance/food- access-resource-list-2021.06.21.pdf | په لیست کې د لينک له لارې په شوونځي کې خواړه او د پيرلو ځانګړو ساعتونو په شمول د خوراکي توکو سرچينې | خوراکي توکو توزیع خدمتونه |
| د اضافي تغذيې مرستي پروګرام (SNAP)<br>https://benefitscal.com/<br>3663-272-510 | CalFresh د اضافي تغذيې مرستي پروګرام (SNAP) دی چې کورنيو ته د صحي خوراکي توکو د پيرلو لپاره مرسته چمتو کوي. | Calfresh |

## د روغتيا بيمې او د درملو سرچينې

| اړيکه | اداره/معلومات |
|---|---|
| 1-800-422-9495<br>https://benefitscal.com/<br>https://www.alamedacountysocialservices.org/index.page | د روغتیایي بیمې په نوم لیکنه کې مرسته (Medi-CAL او نور پروګرامونه) |
| https://www.alamedahealthconsortium.org/health-center/;<br>http://www.alamedahealthsystem.org/locations/ | خپل ځان ته نږدې يو ډاکټر يا روغتيايي کلينيک وموئ |
| http://www.bach.health<br>د ګټو نوم لیکنه: 510-252-6808<br>د ملاقات وخت نیول: 510-770-8040 | د خليج سيمې ټولنيز روغتيايي مرکز (BACH) |

## عاطفي ملاتړ/سلا مشوره کول:

| اړيکه | اداره |
|---|---|
| له دوشنبې څخه تر جمعې پورې له 8:30 څخه تر مازيګر 5:00 بجو پورې<br>1-800-491-9099 | د الميډا ناحيې د چلند روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی |
| 1-800-273-8255 | د الميډا ناحيې د بحران د ملاتړ خدمتونه (24 ساعته) |
| 1-800-273-8255 | د کورنۍ لارو چارو مرستې ټليفوني کرښه (24 ساعته) |


ALAMEDA COUNTY HEALTH CARE SERVICES AGENCY
PUBLIC HEALTH DEPARTMENT
کولين چاولا – د اداري رئيس کيمي واټکينز-ټارټ –
رئيس نيکولاس ماس، MD – د روغتيا مامور

اړيکه
د عامې روغتيا څانګه:
(510) 8000-267 اصلي تليفوني کرښه

د کوویډ-19 معلومات:
(510) 2101-268

برېښناليک: ncov@acgov.org
www.acphd.org